
مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د کب شپږمه | د ۲۰۲۱ د فبروري ۲۴مه | ۶۸٦یمه ګڼه

## کتاب

۴ مخ

### توره نجلی




د ناول پیل چې په ډیالوګ او یا هم د یوې صحنې په انځور وشي، لوستونکي ته هومره په زړه پورې او جذاب وي، د لوستونکي حواس ورټولیږي او تر اخره د لوستلو لاس ورکوي، که داسې ونه شي او یا لیکوال د ناول پیل په دې ډول ونه کړي، ممکن لوستونکی ان په هماغه لومړي سر کې خدای پاماني ورسره وکړي.

# طالبان او حکومت یې پړه پر یو بل اچوي؛

## یوناما: د سولې له خبرو سره همماله ملکي تلفات ډېر شوي



۳

د سولې خبرو بیا پیل، هیلې او ستونزې

۲ مخ

د افغانانو برخلیک؛ په کوم لوري روان دی؟

۲ مخ

امریکا؛ د پاریس تړون ته په راګرځېدو باید رښتینی اقدام وکړي

۳ مخ

## کرنې وزارت: روان کال په هېواد کې د زعفرانو حاصلات ۲۱ ټنو ته رسېدلي



کرنې وزارت وایي، په ۱۳۹۹ کال کې پر نږدې اووه زره او ۹۰۰ هکتاره ځمکه زعفران کرل شوي، چې سږني حاصلات یې نږدې ۲۱ټنو ته رسېدلي دي.
د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي ویلي، چې هرات، بلخ، فاریاب، کندوز، فراه او دایکنډي هغه ولایتونه دي، چې د هېواد تر ټولو ډېر زعفران پکې تولید شوي دي.
نوموړي زیاته کړې، په ۱۳۹۹لمریز کال کې یوازې د هرات ولایت په اووه زره او ۳۱۷ هکتاره ځمکه کې زعفران کرل شوي دي. د یادونې ده چې تېرکال ۲۰ ټنه زعفران لاسته راغلي وو. د کرنې وزارت په وینا، په افغانستان کې د زعفرانو د کرکیلې دودېدو په ډېریو ولایتونو کې د کوکنارو د بدیل کښت ځای نیولی او د خلکو اقتصاد هم ورسره ښه شوی دی. یاد وزارت وایي، چې د افغانستان زعفران امریکا د سیمې او اروپایي هېوادونو ته هم صادر شوي دي. کرنې وزارت ډاډ ورکوي چې په ۱۴۰۰لمریز کال کې به هم د زعفرانو د حاصلاتو کچه لوړه وساتل شي.

## ګلف نیوز: تر هغې چې د سولې خبرې نتیجه ورنه کړي، امریکا له افغانستان څخه نه وځي

ګلف نیوز له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتلو په اړه (په افغانستان کې د یوې اوږدې جګړې پای څرنګوالي) تر عنوان لاندې اوږده راپور کې ویلي، تر هغې چې د سولې خبرې مثبت پرمختګ ونه کړي، امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه نه وځي.
په راپور کې راغلي چې د دوحې هوکړه نه یوازې طالبانو نه ده عملي کړې، بلکې افغان حکومت او امریکا هم ورته ژمنتیا نه ده ښودلې. راپور کاږي، طالبانو د تاوتریخوالي کمولو ژمنه کړې وه، افغان حکومت د سولې خبرو د جدي پیل او امریکا بیا پر طالب ډلې د نړیوالو بندیزونو کمولو ژمنې کړې وې، چې هېڅ لوري خپلې ژمنې نه دي عملي کړې. په راپور کې وړاندې راغلي، بایډن د ډیپلوماسۍ له لارې د افغان جګړې پر پای ته رسېدو ټینګار کړی، خو که بیا هم طالبان تاوتریخوالي ته دوام ورکړي او همداسې له ژمنو په شا شي، نو ښایي د لا ډېر فشار لپاره نور سرتېري هم افغانستان ته واستوي. د راپور په وروستۍ برخه کې راغلي، تاوتریخوالی او جګړه د حل لاره نه ده، نو ټول اړخونه باید نرمښت وښيي، د دې جګړې د پای ته رسېدو لپاره له رامنځته شوي فرصت څخه ګټه پورته او دا اوږده جګړه د خبرو له لارې پای ته ورسوي.

## طالب: د سولې خبرو د دوام لپاره له طالبانو سره په څلورو ټکو هوکړه شوې ده




۵ مخ

## قریشي: امید است امریکا و طالبان توافقنامه صلح را دنبال کنند



شاه‌محمود قریشی، وزیر خارجه پاکستان می گوید امیدوار است تا طالبان و امریکا دنبال کردن توافق‌نامۀ صلح دوحه را ادامه دهند.
آقای قریشی در دیدار با فرستادۀ ویژۀ وزیر خارجه قطر به پاکستان، ابراز امیدواری می کند تا پیشرفت‌ها دربارۀ تطبیق توافق‌نامۀ صلح دوحه میان طالبان و امریکا، حفظ شوند. او افزود که این توافق‌نامه به آغاز مذاکرات صلح در افغانستان کمک کرده‌است.
توافق‌نامۀ صلح میان امریکا و طالبان در ماه فبروری سال گذشته میلادی در دوحه، امضا شد. بر بنیاد این توافق‌نامه، نیروهای خارجی باید تا اول ماه می سال ۲۰۲۱ میلادی، افغانستان را ترک کنند و طالبان نیز خشونت‌ها را کاهش دهند، روابط شان با القاعده و گروه‌های تروریستی قطع کنند و نیز گفت‌وگوهای میان افغان‌ها، آغاز شوند.
امریکا اکنون نیروهایش را در افغانستان به ۲ هزار و ۵۰۰ تن، کاهش داده‌است.
در عین حال شام دوشنبه، شماری از اعضای هیئت‌های مذاکره‌کنندۀ جمهوری اسلامی افغانستان و طالبان پس از سی‌و شش روز تأخیر، باهم دیدار کردند.
محمدنعیم، سخن‌گوی دفتر سیاسی طالبان در قطر در صفحۀ تویترش نگاشته‌است که رییسان و شماری از اعضای هیئت‌های دو طرف با هم گفت‌وگو کردند.
در همین حال، هیئت مذاکره‌کنندۀ جمهوری افغانستان می‌گوید که هیئت‌های دو طرف بر دوام کار گروه‌های کاری روی آجندای مذاکرات، تأکید کردند.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

### د سولې خبرو بیا پیل، هیلې او ستونزې

د سولې مذاکراتي ټیمونو تر اوږده ځنډ وروسته یو ځل بیا په قطر کې د خپلمنځي ناستو د پیلېدو خبر ورکړی دی. دواړو لورو ورم ماښام په یوې ګډې اعلامیې کې ویلي چې یاده ناسته د دواړو پلاوو د مشرانو او ځینو غړیو ترمنځ په ښه فضا کې تر سره شوه. د افغانستان د اسلامي جمهوریت مذاکراتي پلاوي او په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند ډاکتر محمد نعیم هم د دې ناستې ترسره کېدل تایید کړي او ویلي یې دي چې د دواړو خواوو تر منځ یاده ناسته په ښه فضا کې ترسره شوه. دوی دغه راز ویلي چې په یاده ناسته کې ټاکل شوو کاري ګروپونو ته دنده سپارل شوې، چې په دې اړه خپلو ناستو ته دوام ورکړي.

د سولې په اړه د بین الافغاني مذاکراتو دویم پړاو د تېرې جنورۍ په نهمه په دوحه کې پرانیستل شو، خو وروسته د دواړو پلاوو ترمنځ د کاري اجنډا پر سر د ځینو اختلافاتو له امله ناستې تر سره نه شوې.

له اوږدې مودې د سولې خبرې په ساړه حالت کې وې. د تېر میلادي کال په وروستیو کې یوه میاشت رخصتي وشوه، خو چې کله خبرې د جنورۍ په اوومه بېرته پیل شوې، له دوو سړو ناستو وروسته بیا خبرې یو مخ بندې شولې. داسې ښکارېدله چې په دوحه کې د بین الافغاني خبرو دوسیه نوره تړل شوې او دا خبره به بیا پیل نه شي او که پیل هم شي، نو نتیجه به ونه لري. اوس چې دا خبرې بیا پیل شوې، یو ښه پرمختګ دی او خلک ورته خوشاله دي، خو له ټولو سره بیا هم دا پوښتنه ده چې خبرې به مثبته پایله ولري او که به د پخوا په شان سړې، لانجمنې او بې پایلې وي.

دوه بنسټیز لاملونه شته چې د سولې په خبرو منفي اغېز پرې باسي. یو دا چې لا هم د بهرنیو ځواکونو د وتلو مسأله روښانه نه ده. ناټو او امریکایان تر مې میاشتې د وتلو خبره نه کوي، په داسې حال کې چې د دوحې په هوکړه کې ویل شوي چې باید تر مې ټول بهرني ځواکونه له افغانستان ځخه ووځي. که بهرني ځواکونه رښتیا هم ونه وځي او یا په دې اړه له طالبانو سره کوم نوی تفاهم ونه شي، نو تر سولې د جګړې وېره زیاته ده. دا چاره به نه یوازې د امریکا او طالبانو ترمنځ هوکړې ته زیان ورسوي، بلکې د بین الافغاني خبرو ټغر به هم ور ټول کړي. دویم لامل دا دی چې لا هم دواړه بین الافغاني لوري له یو بل سره رښتیني نه دي، په نیتونو کې یې ستونزې شته او هغسې څه نه کوي چې د سولې لپاره ورته اړتیا ده. دا چاره مخامخ پر خبرو منفي اغېز کوي.

اوس چې د سولې خبرې یو ځل بیا پیل شوې، له ټولو ستونزو سره سره ورته هیلې شته. د جګړې دواړه غاړې باید پر دې ولس رحم وکړي، له تېرو زده کړه وکړي، د ولس غږ واوري او د سولې په برخه کې رښتیني ګامونه واخلي. له انعطاف، قربانۍ او یو بل ته له تېرېدنې پرته نه سوله راتلای شي او نه هم جګړه ختمېدای شي. له همدې امله دواړه لوري باید ټول هغه ګامونه واخلي چې له سولې سره مرسته کوي او ټولې هغه کړنې باید ودروي چې سوله تخریبوي او جګړه زیاتوي.

# د افغانانو برخلیک؛ په کوم لوري روان دی؟

سید الرحمن سالار

په هېواد کې له روان وضعیت څخه داسې ښکاري چې موږ په عین وخت کې هم د تېرو ځلورو لسیزو په تر ټولو نازک او خطرناک پړاو کې یو او هم د سولې لپاره ښه فرصتونه لرو، په دې مانا چې که مو مشرانو په احتیاط او د هېواد د لویو ګټو په رڼا کې ګام پورته کړ، د سولې روانې هلې ځلې به نتیجه ورکړي او د وینو بهېدو مخنیوی به وشي او که یې وړه تېروتنه وکړه، نو د ګړنګ له سره به داسې ولوېږو چې ښایي بیا د تل لپاره سر راپورته نه کړای شو او یا به دا کار څو پېړۍ قربانۍ او مبارزې ته اړتیا ولري او د میلیونونو هېوادوالو د ژوند په بیه به تمام شي.

**ولې فرصتونه؟**

د امریکا او طالبانو تر منځ د افغان جګړې ختمولو په اړه د قطر په دوحه کې د نړۍ د ډېرو هېوادونو د استازو په شتون کې د توافقنامې لاسلیک کېدل، د زرګونو افغان بندیانو آزادېدل، د افغان دولت او طالب مرکچیانو مخامخ خبرو پیلېدل او پر ځینو مسایلو هوکړه هغه څه دي چې په تېرو څه باندې ځلوېښتو کلونو کې یې سارې نه دی لیدل شوی. ظاهراً هم په کور دننه او هم په نړیواله کچه د افغان سولې لپاره د تایید شعارونه پورته شول، نو ځکه تمه دا وه او شته چې د افغانانو لپاره د دوه ځلوېښت کلنې غمیزې د پای ته رسولو ښه فرصت رامنځته شوی.

**نامعلوم برخلیک**

د دوحې له تړون وروسته او د بین الافغاني خبرو له پیلېدو سره داسې اټکل کېدو چې دواړه لوري به په لنډ وخت کې یوې مثبتې نتیجې ته ورسېږي او نور به په هېواد کې د جګړې ټغر د تل لپاره ټول ش؛. خو په امریکا کې د نوي حکومت په رامنځ ته کېدو سره واشنګټن اعلان وکړ چې له طالبانو سره پر شوې هوکړه به بیا کتنه کوي او دې کار پر بین الافغاني خبرو اغېزه وکړه.

د امریکایي رسنیو د معلوماتو له مخې، جو بایډن ته یې نظامي سلاکارانو درې انتخابونه وړاندې کړي، یو انتخاب دا دی چې له توافق سره سم ټول پوځیان په ټاکلې نېټه وباسي، بل انتخاب دا دی چې له طالبانو سره دې د خبرو له لارې د محدود وخت لپاره د پوځیانو د وتلو نېټه وځنډول شي او درېیم انتخاب د نامحدود وخت لپاره په افغانستان کې د پوځیانو شتون دی؛ خو لا معلومه نه ده چې بایډن به کوم انتخاب غوره کړي.

څو ورځې وړاندې د ناټو د دفاع وزیرانو غونډه هم له کومې نتیجې پرته پای ته ورسېده او تحلیل ګران په دې باور دي چې ناټو د امریکا پرېکړې ته په تمه ده.

**د امریکا نوی حکومت؛ د طالبانو او افغان دولت تمې**

د جو بایډن په ولسمشر کېدو سره طالبانو او هم افغان دولت واشنګټن ته خپل غږ او غوښتنې په ډاګه کړې.

لوړ پوړو افغان چارواکو هم د رسنیو له لارې او هم له امریکایي چارواکو سره د اړیکو له لارې د واشنګټن او طالبانو تر منځ د شوې موافقې په اړه خپله نارضایتي په ډاګه کړې او له امریکا یې وغوښتل چې په دې تړون دې له سره غور وکړي.

افغان چارواکو له امریکا او ناټو غوښتي چې په افغانستان کې دې خپل پوځي حضور وساتي.

د طالبانو سیاسي دفتر مشر د امریکا ملت ته په یوه پرانیستي لیک کې ویلي، چې امریکا باید د دوحې تړون ته ژمنه پاتې شي او د یاد تړون سره سم دې پر ټاکلې نېټه ټول بهرني عسکر له افغانستان څخه ووځي.

د طالبانو ویاندویانو هم رسنیو ته ویلي چې که بهرني عسکر د دوحې تړون له مخې په ټاکلې نېټه له افغانستان څخه ونه وځي، دوی به یې پر وړاندې بریدونه له سره پیل کړي.

له بلې خوا که څه هم دواړو لوریو له اوږده ځنډ وروسته د فبرورۍ په ۲۲مه په دوحه کې ناسته وکړه، خو لا هم بین الافغاني خبرې له یوه نامعلوم برخلیک سره مخ دي. داسې ښکاري چې طالبان د دوحې تړون په اړه د امریکا د نوي حکومت رسمي دریځ ته په تمه دي او تر هغې به رغنده خبرې ونه شي.

له بلې خوا د هرې ورځې په تېرېدو سره د سیمې او سیمې هاخوا مطرح هېوادونه د افغانستان د سولې په اړه خپل نوي نوي نظرونه وړاندې کوي او دې ته په پام سره د افغان سولې په اړه اجماع هم حقیقي نه ښکاري.

دا وېره شته چې که د دوحې تړون لغوه او یا د یاد تړون له عملي کېدو د مخنیوي لپاره پلمې او نوي شرایط وړاندې شي، نو خدای مه کړه په هېواد کې به روانه جګړه ډېره زوروره شي، ځکه تجربو ښودلې چې کله هم د سولې خبرې ناکامې شوې، نو جګړه سخته شوې او اوس هم په داسې حال کې چې د سیمې هېوادونو هم په یو ډول افغانستان ته لاسونه را اوږده کړي، همدا اټکل کېږي چې هم طالبان او هم امریکایان او افغان حکومت به د دوحې تړون له لغوه کېدو وروسته د خپل زور ازموینې لپاره نهایي هڅه وکړي چې په پایله کې به په هېواد کې د وینو سیلابونه لا څپانده شي.

د افغانستان په اړه د ځینو ګاونډیو، سیمه ییزو او سیمې ور هاخوا هېوادونو لخوا د نویو دریځونو خپلولو، په کور دننه په ډېرو سیمو کې خونړۍ جګړې او د زرګونو کورنیو بېځایه کېدل او په ځینو سیمو کې د قومي ملېشو سر را پورته کېدو، هدفي وژنو په ځانګړې توګه دیني عالمانو، مدني فعالانو او متنفذینو په نښه کولو، بمي چاودنو او ړندو هوایي بریدونو چې قربانیان یې تر ډېره ولسي خلک، په تېره بیا ښځې او ماشومان دي، له ولس سره اندېښنې پیدا کړې او دا یو تیاره راتلونکی منعکسوي، یو داسې تیاره راتلونکی چې نه به ښار امن وي او نه کلی.

متاسفانه د افغانانو یو بد عادت دا هم دی چې د خپلو مخالفینو د ځپلو لپاره د هرچا د مرستې له شرط پرته هرکلی کوي، پرته له دې چې د دې مرستو د زیان او ګټې په اړه فکر وکړي.

مارشال دوستم څه موده وړاندې له آریانا ټلوېزیون سره په مرکه کې وویل چې د ترکیې لخوا ورته ویل شوي چې د افغان ولسمشر د موافقې په صورت کې دوی حاضر دي، چې کله له افغانستان څخه د ناټو او امریکاپوځیان ووځي، دوی یې ځای ډک کړي.

دوستم دغه راز وویل چې هند هم د ده په غوښتنه له پوځ سره د څو چورلکو مرسته وکړه.

دلته اندېښنه دا ده چې د سیمې هر هېواد نور سیالان هم لري او داسې مرستې به حتماً د نورو هېوادونو حساسیتونه را وپاروي او په نتیجه کې به یې افغانستان د یوې بلې خطرناکې سیالۍ میدان شي.

موږ په نږدې تېر تاریخ کې ولیدل چې روسانو هم د پوځي مرستې په نوم زموږ پر هېواد یرغل وکړ، چې تر ننه یې هېواد په بل شوي اور کې سوځي.

د ګاونډیانو او غیر ګاونډیانو په ګډون هېڅ هېواد هم زموږ په غم کې نه دی، یو هم ترې مستثنا نه دی، ټول خپلې ګټې لټوي، ځینو یې زموږ طبیعي زېرمو، اوبو او ستراتیژیک موقعیت او آن خاورې لاندې کولو ته سترګې پټې کړې او ځینې بیا له ځینو نورو سره د سیالۍ او د خپلو سیالو هېوادونو د نفوذ د مخنیوي لپاره دلته د زور ازموینې میدان ته راوړاندې شوي او یا را وړاندې کېږي او نیابتي جګړه کوي.

نو په داسې شرایطو کې د هند، یا ترکیې او یا کوم بل هېواد پوځیان نه یوازې د افغانانو ستونزه نه شي حلولای، بلکې د یوه نوي جنجال د رامنځ ته کېدو خطر له ځان سره لري.

دې ټولو ته په پام سره ویلای شو چې د افغانستان ستونزه یوازې د افغانانو په حقیقي اخلاص او ګذشت سره حل کېدای شي، باید له شته فرصت څخه په سمه توګه استفاده وشي، په ځانګړې توګه ښکیلو لوریو مشرانو ته پکار ده چې د سولې لپاره له رامنځ ته شوي فرصت څخه کار واخلي، نرمښت وښیي، هم د خدای تعالی له مسوولیته او هم د افغانانو او تاریخ له مسوولیته ځان خلاص کړي او د افغانستان روانه غمیزه دې له معقولې لارې حل کړي.

## د بهرنیو چارو وزیر حنیف اتمر د مهمو مسایلو په تړاو د بحث لپاره نن مسکو ته ځي



د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر حنیف اتمر مسکو ته ځي، هغه ښار چې څو اونۍ مخکې د طالب پلاوي کوربه و او چارواکو یې هم په دې وروستیو کې د افغانستان په اړه بحث پاروونکې څرګندونې کړې دي.

د راپورونو پر اساس، د افغان سولې پروسه او له ترهګرۍ او مخدره موادو سره ګډه مبارزه به په مسکو کې د اتمر د بحثونو اصلي موضوعګانې وي.

د بهرنیو چارو وزارت ستر سلاکار باري سلام مسکو ته د اتمر د سفر په اړه ویلي: «د بهرنیو چارو وزیر د یوه پلاوي په مشرۍ په ۲۴م تاریخ (چهارشنبه) مسکو ته ځي. له روسي چارواکو له هغې ډلې بهرنیو چارو وزیر سره به ګوري. د دواړو خواوو

د علاقې وړ مسئلو له هغې ډلې د سولې پروسه، سیمه ییزه اجماع، له ترهګرۍ، مخدره موادو او سیمه کې له پرمختلليو جنایتونو سره په ګډې مبارزې او سیمه ییز اتصال باندې به بحث وکړي.»

وروسته له هغې چې طالبانو له امریکا سره تېر کال تړون لاسلیک کړی، روسي چارواکو په ښکاره د دې ډلې له پلاویو سره کتلي او وخت په وخت یې د افغان سولې او راتلونکي په اړه څرګندونې کړې دي.

تر ټولو وروستۍ څرګندونې د افغانستان لپاره د روسیې د ځانګړي استازي ضمیر کابلوف وې، چې په افغانستان کې یې سولې ته د رسېدو لپاره د یو انتقالي ائتلافي دولت خبره کړې وه او دا یې د کورنیو جګړو د پای ته رسولو لپاره یوه کلاسیکه چاره بللې ده.

د کابلوف د تېرې اونۍ دغو څرګندونو د افغان حکومت تُند غبرګون وپاراوه او هغه یې د افغانستان له اوسنیو واقعیتونو او خپله د روسیې له رسمي اعلامیو سره په ټکر کې وبللې.

د روسیې د بهرنیو چارو وزارت ویاندې ماریا زخرووا بیا په مسکو کې خبریالانو ته وویل چې روسیه تل له سوله‌ییزې لارې د افغانستان د کړکېچ د هوارې غوښتونکې ده.

# امریکا؛ د پاریس تړون ته په راګرځېدو باید رښتینی اقدام وکړي

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن د یوې اعلامیې په خپرولو سره وویل، چې امریکا به په رسمي توګه د اقلیمي بدلون ضد د پاریس په تړون کې دوباره ګډون وکړي او دا ګډون یې عملاً پیل کړی دی. د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتریش د امریکا د پریکړې هرکلی وکړ او ویې ویل چې د امریکا د ستنېدو له امله د پاریس تړون دوباره د یو بشپړ وحدت حالت ته ور ګرځېدلی دی.

د ګوتریش خبرې د نړیوالې ټولنې د ګډو نظریاتو څرګندونه کوي. د ګردې کرې له اقلیمي بدلون سره مبارزه د ټولو ګډو کوښښونو ته اړتیا لري، خو امریکا چې په نړۍ کې د شنو خونیزو ګازو د ایستلو عمده لوی هېواد دی، د تېر کال په پای کې د نوموړي تړون له امله د هېواد د مالي او اقتصادي بارونو د زیاتېدو په پلمه په رسمي توګه له دغه تړون څخه ووتله، چې دغسې عمل د تړون په ۱۹۰ لاسلیک کوونکو هېوادونو کې بې ساری و.

د امریکا دغه ناوړه او ځاني عمل د پاریس تړون د پلي کېدو اغېزې ډېرې کمزورې کړې. ملګرو ملتونو خبرداری ورکړ چې که انسانان د بدلون اقدامات ونه کړي، ښایي په روانه پېړۍ کې له داسې تباه کوونکې نتیجې سره مخامخ شي چې د تودوخې درجې د لوړوالي اندازه تر ۳ سانتیګراډ درجو لوړه شي. د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتریش په دې وروستیو کې ویلي، چې اوس په امریکا کې ډېره سړه هوا د نړیوال اقلیمي بدلون نتیجه هم ده.

په یاد شوي حالت کې د بایډن حکومت په مشرۍ امریکا د پاریس په تړون کې دوباره ګډون کړی دی. د امریکا دغه پرېکړه د هرکلي وړ ده، خو د پام وړ خبره دا ده چې دغه مهم تړون د انسانانو د راتلونکې ژوند له چاپېریال سره تړاو لري او هیڅ هېواد اجازه نه لري چې په خپله خوښه په دغه تړون کې ګډون وکړي او یا له دې تړون څخه ووځي او یا یوازې پر شفاهي ژمنو پاتې شي او رښتیني ګامونه پورته نه کړي. امریکا باید د انسانانو د راتلونکي او برخلیک له لحاظه د دغه تړون مهم ارزښت ته په درنښت وګوري. رښتیني اقدامات د څرګندونو په پرتله لا ډېر مهم دي.

بایډن د تېرې جنورۍ میاشتې په پای کې له لوړې وروسته سمدستي زیات اداري حکمونه لاسلیک کړل او اعلان یې وکړ، چې په ۲۰۳۵ کال کې د برقي صنعت په برخه کې د کاربن د ایستنې د له منځه وړلو موخه او په ۲۰۵۰ کال کې د کاربن د ایستنې او جذب د برابرۍ موخه یې ټاکلې ده. خو دغه پلان د جمهوریت غوښتونکي ګوند له کلک مخالفت سره مخامخ شوی. د بایډن د حکومت پر وړاندې ډېرې ستونزې شته، چې د دغه هېواد د سیاسي قطبي کېدو په حال کې باید څنګه شعارونه او اعلانونه عملي شي؟ څنګه د دې مخه نیول کېدلی شي چې دغه تړون د سیاسي ګوندونو د سیالۍ قرباني ګرځي؟ څنګه د اقلیمي چارو په اړه د امریکا دوامداري تګلارې تامینېدلی شي؟

د بایډن حکومت د اقلیمي بدلون مسئله په نړۍ کې د امریکا د مشرتوب ځېرې د بیارغونې لار بولي؛ خو ((د مشرتوب ځېرې بیارغونه)) دا مانا نه لري چې امریکا د څو اړخیزم په پلمه د یو اړخیز ګامونه نه شي پورته کولی. د اقلیمي بدلون د ننګونې پر وړاندې یوازې څو اړخیزم د انسانانو ګډې ګټې خوندي کولی شي.

پرمختللي هېوادونه د شنو خونیزو ګازو ایستونکي دي او پرمختیایي هېوادونه د اقلیمي بدلون زیانمنېدونکي دي. د اقلیمي بدلون په اړه د ملګرو ملتونو چوکاټي تړون له مخې، پرمختللي هېوادونه باید د کاربن ایستنې د کمولو لپاره هڅې پیاوړې کړي او له پرمختیایي هېوادونو سره دې د پانګې او ټکنالوژۍ مرستې وکړي، څو د اقلیمي چارو د اداري نوی سیستم جوړ شي چې بېلابېلې خواوې د خپلې وسې په اندازه کوښښ وکړي.

هیله لرو چې امریکا د اقلیمي بدلون ضد د مبارزې لپاره رښتیني ګامونه پورته کړي او د نړۍ د لومړي لوی اقتصاد په توګه دې خپل نړیوال مسوولیت پر غاړه واخلي.

د سین هوا اژانس د خبر له مخې، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتونیو بلینکن د فبرورۍ په ۱۹مه وویل، امریکا په همدې ورځ د پاریس په تړون کې دوباره شامله شوه.

نوموړي په همدې ورځ د یوې اعلامیې په خپرولو سره وویل، د پاریس تړون د نړیوالو عملیاتو یو بې ساری چوکاټ دی او د ګردې نړۍ د ګرمېدو د مخنیوي او د اقلیمي له بدلون سره د مقابلې توان د پیاوړتیا لپاره ګټور دی. د اقلیمي بدلون او د ساینس په برخه کې ډیپلوماسي د امریکا د ډیپلوماتیکو تګلارو اضافي مواد نه دي، له اقلیمي بدلون سره مقابله او د ساینسپوهانو وړاندیزونه اورېدل به د دې هېواد په کورنیو او بهرنیو تګلارو کې مهمه برخه وي.

# طالبان او حکومت یې پړه پر یو بل اچوي؛

## یوناما: د سولې له خبرو سره هممهاله ملکي تلفات ډېر شوي



ملګرو ملتونو په افغانستان کې د روانو جګړو د ملکي تلفاتو راپور خپور کړی دی. د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر په کابل کې په دې خپاره کړي راپور کې ویلي، چې د بین الافغاني خبرو له پیل سره هممهاله ملکي تلفات لوړ شوي او جګړې هم شدیدې شوې دي. یوناما د ملکي مرګ ژوبلې د لویې برخې مسوولین وسله وال طالبان بولي، خو طالبان بیا دغه راپور ردوي. افغان حکومت هم پر دې راپور غبرګون ښودلی او وایي چې طالبان د لوړې سلنې مرګ ژوبلې مسوول دي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما وایي چې تېر ۲۰۲۰ز کال په لومړیو کې د سولې لپاره له هیلو ډک کال و او میلیونونه افغانانو دا تمه لرله چې ګواکې په افغانستان کې به روانه جګړه پای ته ورسېږي، خو وضعیت د خلکو د تمې پرخلاف خونړی شو. د سرچینې په خبره، سره له دې چې ملکي مرګ ژوبله د تېر کال په پرتله په دې کال کې کمه ده، خو د بین الافغاني خبرو او دوحې هوکړې تر لاسلیک وروسته په افغانستان کې د ملکي وګړو تلفات ډېر شوي دي.

په راپور کې راغلي چې د تېر ۲۰۲۰ز کال له جنورۍ بیا د ډسمبر تر میاشتې پورې ټولټال ۸۸۲۰ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. سرچینه کاږي چې له دې ډلې (۳۰۳۵) مړه او (۵۷۸۵) نور کسان ټپیان شوي دي. دوی د ملکي تلفاتو ستر لامل په ښارونو او کلیو کې د طالبانو بریدونه او د بهرنیو ځواکونو بمبارۍ یادوي. سرچینه کاږي چې طالبان د شاوخوا ۴۶ سلنې مرګ ژوبلې مسوولین دي. د ملګرو ملتونو په دې راپور کې بیا حکومت د ۲۲ سلنې ملکي تلفاتو مسوول بلل شوی دی.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه دفتر مشرې دبورا لاینز بیا د دغه راپور د خپرولو پر مهال له ښکېلو لورو غوښتي چې ژر تر ژره تاوتریخوالی کم کړي. د نوموړې په خبره، د دغه راپور له خپرولو یې موخه دا ده چې ښکېلې خواوې د ملکي وګړو خوندیتوب ته وهڅوي او له دوی وغواړي چې په افغانستان کې روانې جګړې ته د پای ټکی کېږدي او ژر تر ژره اوربند وکړي. د لاینز په وینا: «د دغه مهم راپور اصلي موخه مسوولو خواوو ته د واقعیتونو او سپارښتنو وړاندې کول دي، دوی باید ملکیانو ته د زیان رسېدو د مخنیوي په برخه کې فوري ګامونه اوچت کړي. له دوی غواړم چې د اقداماتو په ترسره کولو ژر تر ژره د لا ډېرو رنځونو مخه ونیسي».

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر همدا راز پر ښکېلو لورو غږ کړی، چې ژر تر ژره د سولې خبرو ته ادامه ورکړي او په دې فکر وکړي چې څنګه کولی شي دلته اوسنی تاوتریخوالی چې تر ټولو ډېر زیان یې ملکي وګړو ته اوړي، له منځه یوسي. د سرچینې په خبره، ملګري ملتونه په افغانستان کې د سولې د خبرو ملاتړ کوي، خو دغه خبرې باید د تاوتریخوالي د کمېدو سبب شي.

بلخوا طالبانو او حکومت دواړو د یوناما پر دغه راپور غبرګون ښودلی دی. د وسله والو طالبانو له لوري په خپره شوې اعلامیه کې راغلي چې دغه راپور یو اړخیز دی او یوناما یوازې د افغانستان د استخباراتي او امنیتي ادارو ارقام او خبرې اورېدلې دي. د دوی په وینا، د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې اصلي مسوولین افغان حکومت او همدا راز بهرني عسکر دي چې د عامو وګړو کورونه یې بمبار کړي دي. په اعلامیه کې راغلي چې راپور د غلطو معلوماتو پر بنسټ جوړ شوی او دوی یې ردوي.

له دې سره جوخت د افغان حکومت د ملي امنیت شورا هم پر دې راپور غبرګون ښودلی دی. دغه شورا وایي، دوی د نړیوالو ادارو د ورته اقداماتو ستاینه کوي چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره هلې ځلې کوي، خو په دې راپور کې طالبان د زیات مرګ ژوبلې مسوولین دي، ځکه د دوی تر پوښښ لاندې ګڼې ترهګرې ډلې دلته فعالیت کوي او ملکي افغانانو ته تلفات اړوي. ملګري ملتونه داسې مهال دغه راپور خپروي چې لا هم په افغانستان کې خونړۍ جګړه روانه ده او عام افغانان له دې جګړې ستړي شوي او له نړیوالو دلته د سولې راوستو هیله لري.

# بایډن: د کرونا له کبله د سلګونو زرو امریکایانو مړینه وېرونکې غمیزه ده



په داسې حال چې لاهم په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې په چټکۍ سره د ډېرېدو په حال کې دي، د امریکا ولسمشر جوبایډن په متحدو ایالتونو کې د دغه ویروس له کبله د څه باندې پنځه لکه کسانو مړینه یوه وېرونکې غمیزه او بوږنوونکې مرحله بللې او د هېواد له خلکو یې غوښتي دي، چې د دې وبا پرضد په مبارزه کې یو موټی شي.

بایډن چې د خپلې کورنۍ غړي یې په تېرو کلونو کې له لاسه ورکړي، په یوه ټلوېزیوني وینا کې خپل ویر ته اشاره وکړه او پر امریکایانو یې غږ وکړ، چې د خپلو تللو عزیزانو یاد ته درناوی وکړي او په یاد یې وساتي. هغه له امریکایانو وغوښتل چې هوښیار واوسي، ټولنیز واټن وساتي، ماسکونه واغوندي او په خپل وار واکسین وکړي.

دا په داسې حال کې چې لاهم په نړۍ کې پر کرونا ویروس هره ورځ لسګونه زره کسان اخته کېږي. د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۱۲ میلیونه او ۳۷۲ زره او ۴۳۰ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۴۸۷زره او ۸۰۷ کسان مړه شوي او نږدې ۸۷ میلیونه نور ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۸ میلیونه او ۸۲۹ زره او ۱۷۳ ته رسېدلې او ۵۱۲ زره او ۷۶۷ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.


دغه راز هند د ۱۱ میلیونه او ۲۲ زره او ۵۸۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۰ میلیونه او ۱۹۷ زره او ۵۳۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د څلور میلیونه او ۱۸۹ زره او ۱۵۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانیا د څلور میلیونه او ۱۲۶ زره او ۱۵۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## د کتـــاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




په راتلونکو پنځو څپرکيو کې پر ځينو وروستيو پېښو باندې بحث کېږي. د ممبيي د ۲۰۰۸م د نومبر پر پېښې به بحث وشي، پر جاسوسي تورن د «کلبهوشن يادېو » نيول او جمو کشمير او پنجاب کې تر لويو ترهگريزو بريدونو وروسته په صفري کرښه کې د هندي پوځ پر بمباري به بحث وشي. همدارنگه په راتلونکو څپرکو کې به د استخباراتي ادارو پخواني رئيسان د هند او پاکستان پر ځينو بې مانا لفاظيو لکه «ترهگري او خبرې اترې يو ځای سره نه کېږي.» همدارنگه پخواني رئيسان به د جگړې پر گټو او تاوانونو هم غږېږي.
د صحنې انځورول
د مارچ ۲۷مه ۲۰۱٦، کټمنډو: تر اوږدو خبرو اترو وروسته يوه شپه د دولت يوه ملگري خوا ته د ماښامنۍ لپاره ورغلو. مېلمانه د ISI د رئيس په ليدو حيران پاتې و. جنرال دراني له دې خبرې سر ټکاوه چې په کټمنډو کې نورې نو پاکستانۍ کلدارې نه چلېږي.

### ۲۱
### حافظ سعيد او د نومبر د ۲٦مې پېښې

دوراني: ما ته د کارگېل او د ممبيي د پېښو ترمنځ گډ څه نه ښکاري، که څه هم د دواړو پېښو پر مهال واک له ملکي حکومت سره و، خو بدل، بدل خلک په واک کې وو.
دولت: نو صيبه دا د ممبيي پېښه ولې رامنځته شوه؟
دوراني: د ممبيي د پېښې په تړاو ما هم په پاکستاني رسنيو کې ويلي او هم په هندي هغو کې چې د ممبيي پېښې تر شا چې هر څوک وي، که دولتي ملاتړ ورسره وي، که د ISI او که د پوځ؛ بايد د قانون منگولو ته وسپارل شي او جزا ورکړل شي. خبره يوازې د ۱٦٨ تنو د مړينې نه ده، د څلور ورځو د وينو تويولو خبره نه ده؛ خبره دا ده چې دغه مهال په خپله د پاکستان په ختيځ کې جگړه روانه وه او پاکستان ورته سمه رسيدگي کولای نه‌شوه، په لوېديځ او بلکې ټول هېواد کې گڼې ستونزې وې. ما ته معلومات نشته چې دا کار به چا کړی وي، خو «ډېويډ هيډلي» چې د ISI د يوه جگړن نوم واخيست، گڼې پوښتنې يې را پورته کړې. دغې پېښې موږ له گڼو ستونزو سره لاس گرېوان کړو.
دولت: اصلي خبره خو دا ده چې هيډلي له حافظ سعيد سره همکاري کړې وه.
دوراني: چې دغومره خبرې معلومې شوې دي، نو وړاندې تگ آسانه دی او نورې پلټنې کېدای شي. له تېرو اتو کلونو راهيسې چې موږ دواړه د گډو پلټنو، گډې محاکمې، د استخباراتي معلوماتو د شريکولو او د تروريزم ضد جگړې د يوه مشترک ميکانېزم پلوي کوو، نو لامل يې ښکاره دی، ځکه تر هغې چې دا قضيه حل او فصل نه‌شي په اړيکو کې ښه‌والی ممکن نه دی. پلټنې بايد تور او سپين سره بېل کړي، نو و دې شي چې حافظ سعيد، ISI، جيش محمد يو هم په دغې پېښه کې لاس نه وي، کېدای شي يو درېيم، څلورم يا پنځم لوری په دې پېښه کې ښکېل وي.
سېنها: ښاغلی دولت تاسې په خپل وروستي کتاب کې ليکلي دي چې کله اړيکې ښې پر مخ نه ځي، نو د پاکستان پوځ انگېرې چې هند ته بايد يوه جټکه ورکړل شي، بيا نو د ممبيي په څېر پېښه وشي.
دولت: بالکل همدغسې ده. زما پر دې باور هم دی چې ښايي مشرف به د نومبر د ۲٦مې پېښې په تړاو خبر و.
دوراني: دغه مهال خو مشرف په واک کې نه و. د ۲۰۰۸م په اگسټ-سپټمبر کې دی له واکه لرې شوی و.
دولت: ستاسې خبره سمه ده، خو صېب، پلان به يې وړاندې جوړ شوی و. کېدای شي چې د مشرف هم پکې لاس وي. زه اوس هم پر خپلې پخوانۍ خبرې ټينگ ولاړ يم، پاکستان چې نااميده شي نو څه پېښېږي.
سېنها: په وروستيو کې حافظ سعيد په خپل کور کې نظر بند کړل شوی و. هندي رسنيو ته په‌دې کار کې د ټرمپ اغېز ښکارېده.
دولت: خدا زده چې حافظ سعيد به ټرمپ ته مهم وي، که نه. ښايي د ده نيول يو اتفاقي کار وي. د جنرال احسان د خولې خبره ده چې د ده په تړاو پلټنې روانې وې، نو دی بايد په کور کې نظر بند ساتل شوی وای.
دوراني: دی يې محکمې ته حاضر کړ، خو په تړاو يې نوي څه نه و. و دې شي چې حافظ سعيد يې د حالاتو د کراره کولو په پار نيولی وي. شپږ مياشتې وروسته يې پرېښود.
سېنها: مطلب د حافظ سعيد نيول هم يو نمايشي کار و؟
دوراني: تر کومه چې د حافظ سعيد خبره ده، نو په دې کې نوي څه دي؟ آيا نوي شواهد او ثبوتونه تر لاسه شول؟ سړی لا ويلای شي چې له حافظ سعيد سره جوړجاړی شوی دی.
**دوام لري...**

# توره نجلی

◀ اکسوس کتابپلورنځی



«د ښوونځي په لومړي ټولگي کې په لومړي نمبر راغلی وم او د ښوونځي ادارې په ستاينليک ونازولم، دا هغه لومړۍ خوښي او وياړ و چې د لومړي ځل لپاره مې د خپلې کورنۍ په برخه کړی و. د ځان ستاينه نه کوم، خو په ټوله کې لايقه هلک وم...»
د ناول پيل چې په ډيالوگ او يا هم د يوې صحنې په انځور وشي، لوستونکي ته هومره په زړه پورې او جذاب وي، د لوستونکي حواس ورټولېږي او تر اخره د لوستلو لاس ورکوي، که داسې ونه شي او يا ليکوال د ناول پيل په دې ډول ونه کړي، ممکن لوستونکی ان په هماغه لومړي سر کې خدای پاماني ورسره وکړي.
د (توري نجلۍ) پيل همداسې خوندور شوی دی، ژر مو ذهن هغه صحنې ته بيايي چې ليکوال يې تاسې ته بيانوي، که چا ښوونځی لوستی وی، هغوی خو ځان په هماغه ټولگي ويني او ان ځان خپله داسې احساسوي لکه گواکې چې په هماغه صحنه کې حاضر دی، ځکه په ټولگي کې د اول نمره‌گۍ خوند او بيا د ادارې لخوا د ستاينليک اخيستل په رښتيا هم چې ډېر خوند کوي. د دې صحنې په ليدلو سره لوستونکي ته سمدستي ځينې پوښتنې پيدا کېږي، د بېلگې په ډول هغه وايي، له دې وروسته دا سړی(د ناول اصلي کرکټر) څه کوي؟ ښوونځی پرېږدي؟ ناروغ کېږي؟ درانه کارونه کوي؟ ښوونځی يې سوځول کېږي او که بله څه بلا پرېوځي؟
لوستونکی د دې پوښتنو د ځوابونو د پيدا کولو لپاره مجبور دی چې ناول تر اخره ولولي او وروسته بيا پوه شي چې څه وشول. دا د ليکوال يوه ښه ځانگړنه ده چې لوستونکی ان له لومړي سره له ځان سره واخلي، ټولې صحنې پرې ووينې، هر ځای ته يې بوځي، وې خندوي، وې ژړوي او ښې ډېرې کيسې ورته وکړي. د دې ناول ليکوال دا ځانگړنه لري.
د ناول اصلي کرکټر کليوال ځوان دی، هغه له ښاره لرې په يوه لرې سيمه کې ژوند کوي، ساده ژوند لري او په ډېرو شيزونو يې چندانې سر نه خلاصېږي. کله چې په ناول کې ليکوال د ناول هر کرکټر د هغه له موقف سره سم ولوبوي، هومره لوستونکيو ته په زړه پورې کېږي. د بېلگې په ډول، که کرکټر بزگر وي، بايد د بزگر په ژبه وغږېږي او ټول سروکار يې له بېل او پټي سره وي.
د کرکټر له موقف سره نه يوازې سمه ژبه بايد وکارول شي، بلکې د هغه د ژوند ډول، عادتونه، ناسته ولاړه او غوښتنې يې هم بايد د هغه له موقف سره سمې وي. په دې ناول کې دا اصل ډېر ښه په پام کې نيول شوی دی. د ناول اصلي کرکټر په لومړيو کې په کلي کې ژوند کوي او ټول هغه عادتونه لري چې يو کليوال زلمی يې لري. لکه په ناول کې يوځای راځي: «باغ سره نښتي ديوال سره کوڅه کې د سېل د مخنيوي لپاره رحمت اکا خاوره اچولې وه او د سيد اکا باغ ترې له لرې مالومېده، ورغلو، ور غږ مې کړ، سيد اکا و سيد اکا! بې دادا دې غواړي!!
هيڅ غږ راغبرگ نشو، زمري ته مې وويل، هلکه که وای نو خامخا يې غږ راکاوه نشته؛ څه چې په ديوال ورواوړو.»
انځورکښنه پکې په ډېر مهارت سره شوې ده، دومره مهارت سره چې د لوستو پر مهال يې به يې کاملاً په هغه صحنه کې غرق وې، داسې چې له ځان سره به مسک مسک کېږي او دروناً به يو بل ډول احساس کوی، که دا وخت ښه په زوره درباندې يوڅوک غږ ونه کړي، هر غږ به دې اسانه وا نه وري. لکه ناول کې يو ځای راځي: «غېږ کې مې ونيوه، ورته ومې ويل، ته خبره يې چې پر ما څه تېر شول، څومره درد مې ولید، څومره وځورېدم، ستا له ليدو وروسته مې بيا ارام نه دی کړی، يوه شېبه مې ستا له ياد پرته نه ده تېره کړې، يوه لحظه مې له يادە نه يې وتلې.
توري نجلۍ مې سر په اوږه کېښود، له اوښکو ډکې سترگې يې راپورته کړې، ويې ويل، مينه...»
څومره مهارت، يوځل مو بوځي د خپلې معشوقې تر غېږې، د هغه له سترگو سره سترگې درباندې وجنگوي، پر اوږه مو سر کېږدي او د وجود تودوخه يې درباندې لمس کړي.
د ناول موضوع د پښتنې ټولنې، کليوالي ژوند، ماشومتوب سياليو، بې غمه ژوند او سرشارې دنيا، غوښتو او ناغوښتو ورانيو، د ځلميتوب ناخوالو، مينې او ژوند په په پراخه دښته څرخ وهي؛ خو تر بل هر اړخ يې د مينې اړخ پکې قوي دی.
مينه‌وال کولای شي ياد کتاب پر اکسوس سربېره د ښار له نورو لويو کتابپلورنځيو هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | ليکوال / ژباړن | بيه |
|---|---|---|---|
| ۱ | په اسلام کې د فقر درملنه | يوسف قرضاوي/ عمران لمر | ۱۸۰؋ |
| ۲ | نوی الحاد په رنگينه بڼه | مراد يوسفي/ عزيزالله شهباز | ۲۳۰؋ |
| ۳ | په ژوند کې يو ښه سړی نشته | انند گوپال/حزب الله اتل | ۲۵۰؋ |
| ٤ | په دښتو کې جنتونه (ناول) | نعمان دوست | ۱۰۰؋ |
| ٥ | صفر تر يو | پيترتېل او بلېک ماسټر/فريد مهروول | ۱۰۰؋ |
| ٦ | (د ترکستان شپې (ناول | نجيب الکيلاني/حفيظ الله هميم | ۱۳۰؋ |
| ۷ | همينگوې څه وايي | عصمت ثاروان | ۱۰۰؋ |
| ۸ | ژوند ته دې شفاء ورکړه | لويس. ايل. هې/صالح محمد صالح | ۱٥۰؋ |
| ۹ | هغه ماشوم ته ليک چې هېڅکله ونه زېږېد | اوريانا فلاچي/شبانه دوران | ۱۰۰؋ |
| ۱۰ | که نړۍ بدلوئ! | وېليم ايچ مکريون/ميراحمد ياد | ۸۰؋ |
| ۱۱ | د ژمي مازديگر | هيله پسرلی | ۸۰؋ |
| ۱۲ | پيلبو لنډې (کيسې) | اجمل پسرلی | ۱۰۰؋ |
| ۱۳ | د جنت ملکه | عابده سپوږمۍ | ٦۰؋ |
| ۱٤ | توره نجلۍ ناول | ارين جلال | ۷۰؋ |
| ۱٥ | د کرنيز اقتصاد او کروندې مديريتي اساسات | ډيويډ کاهان/حسين گل اريوبي | ۱۰۰؋ |
| ۱٦ | ابدي ژوندون | عبدالغني ميوندي | ۱۸۰؋ |
| ۱۷ | امبريولوژی طبی | محمدفريد برنايار | ۲٥۰؋ |
| ۱۸ | طبابت از ديدگاه اسلام | اونيبا صيقل | ۱۲۰؋ |
| ۱۹ | فزيولوژی طبی | محمدناصر فروتن | ۳۸۰؋ |
| ۲۰ | هستالوژی | بری صديقی | ۲۲۰؋ |
| ۲۱ | ستيشن های برق آبی | محمدامام‌عالمی | ٥۰۰؋ |
| ۲۲ | بيوفزيک | شيرمحمد کريم، خان محمد ابراهيمی و پشتنه بنائی احمدزی | ۲٥۰؋ |
| ۲۳ | اساسات اناتومی جلد اول | ديپارتمنت اناتومی پوهنتون طبی کابل | ۳۸۰؋ |
| ۲٤ | ما وې لرې رانه مه ځه! | حفيظ هميم جلالزی | ۳٥۰؋ |
| ۲٥ | مديريت ريسک پروژه | حسين راد مهر، اميرحسن محبی | ٤٥۰؋ |
| ۲٦ | پښتون افغان افغانستان | محمدحسن کاکړ | ۱۲۰؋ |
| ۲۷ | قانون قدرت | رابرت گرين/فاطمه باغستانی | ٥۰۰؋ |
| ۲۸ | افغانستان مردم تاريخ و سياست | نوراحمد خالدی | ۳۰۰؋ |
| ۲۹ | د ژوند مهارتونه | ارنولډ لازاروس او کليفورډ لازاروس/حميدالله حميدي | ۱۸۰؋ |
| ۳۰ | الله تعالی ته لار | ذوالفقاراحمد نقشبندي مجددي/ زاهد جلالي | ۲۰۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړيکه ونيسئ**

پته: دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ        اړيکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,٤ |
| € | ۹۳,٤ |
| Rp. | ٤۸۳ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۷ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# کولای شی خپل کارونه کنټرول کړی؟

ژباړه: امان الله حنیفي

لومړی دا ومنئ چې د کنټرول وړتیا لرئ، دویم دا معلومه کړئ چې د ژوند کوم اړخونه کنټرول کولای شی او کوم نه. کله چې د مسوولیت او انتخابونو په منلو پیل وکړی، ورو ورو به مو ژوند هم بدلون وکړي. د یوه یوناني فیلسوف په خبره: «خپله ټوله هڅه وکړئ باقي یې تقدیر ته پرېږدئ.»

د مسوولیت منلو پر وړاندې ټول محدودیتونه مو وپېژنئ، که نه، د مسوولیت په دغه لاره به مو سخت ستړي کړي او بالاخره به بیا داسې احساس کوی چې د دې ټولو په مقابل کې مو ماتې خوړلې ده. د بریا کلي د هغه بار په اوږه اخیستل دي چې تاسې یې مسوول یاستی او د حالت او کنټرول لپاره به ډېر دروند بار له اوږو کموئ.

مسوولیت منل مو پر ځان باور زیاتوي. ولې ډېری وخت خلک پر ځان باور نه کوي؟ په دې دلیل چې د ژوند کولو مسوولیت نه مني. جان دیدیون وایي: «د خپل ژوند د مسوولیت منلو تمایل هغه منبع ده، چې پر ځان باور ترې سرچینه اخلي.»

هغه کسان چې د ژوند کولو مسوولیت نه مني، ډېری وخت له بدو پېښو سره مخ کېږي او بیا د هغه د رامنځ ته کېدو له امله نور ملامتوي.

هغه وخت چې د یو کار په سم ډول سرته رسولو پر مهال له کوم مشکل سره مخ شی، څه احساس کوی؟ ایا دا وخت خپه نه یاست؟ ایا دا مشکل مو د لا پیاوړي کېدو احساس نه پیاوړی کوي؟ ایا دا چې تاسې یو کار په سم ډول سرته رسولی دی، د خوښۍ احساس نه کوی؟ پوهېږم چې همداسې به وي. البته زما لپاره خو همداسې ده. د پرله‌پسې انتخابونو مسوولیت منل ستاسې پر ځان د باور پیدا کولو حس پیاوړی کوي.

کله چې دېرش کلن وم، یو خپلوان مې د یوې ښې پانګې اچونې وړاندیز راته وکړ او هغه چې ما او مېرمنې مې د پانګې اچونې کاپي پیسې نه درلودې، هغوی د قرض پیسو راکولو وعده هم راسره وکړه. دا زموږ لپاره ډېر ښه فرصت و او ما هم ژر قبول کړ. خو له دوه ساعته فکر کولو وروسته مې له ځان سره وویل، هغه راسره ډېره ځواني وکړه او په قرض د خپلو پیسو ورکولو خطر یې هم ومانه او ما د هغه لپاره هېڅ هم ونه کړل. داسې مې و انګېره چې دا خو سمه نه ده. سبا ورځ مې له هغه منه وکړه او ورته ومې ویل چې که مې یوه اندازه پیسې پیدا کړې، حتماً به له تاسې سره شرکت کوم.

یوه میاشت مې ډېر سخت کار وکړ، څو هغه ټاکلې اندازه پیسې برابرې کړم. دا زما لومړۍ مالي پانګه اچونه وه او دا وخت یوځه وېرېدم هم. زه د داسې فرصتونو موندلو ته تږی وم او هم د دې مسوولیت له منلو خوشاله وم. که څه هم چې په اخر کې مې ډېره پانګه لاسته راوړې وه، خو پر ځان باور پیدا کېدل زما لپاره تر ټولو ښه پانګه وه. هیله لرم چې دا موضوع ستاسې لپاره هم همداسې و اوسي.

مسوولیت منل تاسې عمل کولو ته چمتو کوي. هوښیاران وایي: «عمل له تفکر څخه سرچینه نه اخلي، بلکې د مسوولیت منلو لپاره له چمتووالي سرچینه اخلي.» د مسوولیت منل له موږ سره مرسته کوي چې کار پیل کړو او هغه کسان چې پیلوونکي دي، هر کار په ښه ډول سر ته رسوي. ولې؟ ځکه هغه کسان چې په ډېرې چټکۍ سره کارونه تر سره کوي، ډېری وخت د لوبې ګټونکي نه وي، پر ځای یې هغه کسان چې لومړی یې شروع کړې ده، لوبه ګټي. مسوول کسان بل چا ته په تمه نه وي، چې هغه د پیل وکړي، هغوی خپله کار شروع کوي.

روګو کوراپاتي وایي: «ډېری خلک وایي چې د انسان اعمال د هغه له افکارو سرچینه اخلي، خو واقعیت دا دی چې د ژوند له مسوولیت منلو پرته هغه فکرونه یوازې د یوخیال په شان پاتې کېږي او هېڅ وخت په عمل نه بدلېږي. د خپل ژوند مسوولیت منل هغه فوق العاده عمل دی چې د کار په پای ته رسولو ختمېږي او بالاخره له ډېرو افکارو او اندېښنو د بچ پاتې کېدو لامل کېږي او هماغه دي چې د خاموش پر ځای سرې پر فعال هغه بدلېږي.» د مسوولیت منل مو عمل کولو ته چمتو کوي.

د مسوولیت منل د دې باعث کېږي چې ستاسې اعمال ستاسې خدمت وکړي.

ایا عادتونه ښه دي او که بد؟ دا پوښتنه د عادتونو په ډول او دې پورې اړوندېږي چې هغه زموږ لپاره کومه ګټه لري او که نه. کله چې مسوولیت له عادتونو سره همغږی شي، مسوولیت مثبت لوري ته رهنمایي کوي او بالاخره عادتونه زموږ په ګټه کار کوي.

مثبت اعمال هغه تصمیمونه دي چې موږ یې یوځل نیسو. داسې لکه موږ چې تصمیم نیسو په منظم ډول به ورزش کوو او بیا هره ورځ په ښه ډول هغه مدیریت کوو. کله چې موږ ښه تصمیم نیسو او بیا ورځ په ورځ هغه ښه مدیریت کوو، لرې نه ده چې د هماغه تصمیمونو د ښو پایلو شاهدان به اوسو. یو ښه تصمیم له مدیریت پرته په هماغه لومړۍ ریښه کې مړاوی پاتې کېږي او په مدیریت سره بیا را زرغونېږي، غوړېږي او حاصل ورکوي. همدا دلیل دی چې د یو تصمیم په نسبت د هغه مدیریت هم هومره ارزښت لري.

د دې برعکس کله چې بیا مسوولیت نه منو او د خپلو ورځنیو مثبتو عادتونو په کنټرول کې غفلت کوو، هماغه دي چې پر ځای یې په ځان کې بهانې کول، فریب ورکول او چل بازۍ ته ځای ورکوو او بالاخره بیا همدا بد عادتونه موږ تر خپل کنټرول لاندې راولي. د بېلګې په ډول، بهانه کول د بریا پر لور د تېرو غېشو باران کول دي. بهانه کول زموږ په ذهن کې هغه دلیل تراشي څو موږ په دې قانع کړي چې موږ د خپل ژوند مسوول نه یاستو.

هره بهانه چې کوو، هغه موانع رامنځ ته کوو چې له امله یې له خپلو تېروتنو لاس وانه خلو، بهانه کول د دې لامل کېږي چې موږ یا حالت او یا هم نور کسان ملامت کړو او بالاخره یې پایله دا کېږي چې د ژوند بدلولو وړتیا له لاسه ورکړو. خو کله چې مسوولیت منو، بیا پر ژوند او شرایطو کنټرول تر لاسه کوو.

مسوولیت منل تاسې ته احترام او قدرت په لاس درکوي. احترام لاس ته راوړل اسانه کار نه دی او که هغه لاس ته را نه وړل شي، هغه هسې موږ ته ځوک نه ډالۍ کوي. ډېر وخت مې اورېدلي او اورم چې رهبران د قدرت نه لرلو له امله تاسف کوي. د دوی اصلي ستونزه چېرته ده ولې تاسف کوي؟ هغوی د دې پر ځای چې د مسوولیت منونکي چلند په واسطه قدرت تر لاسه کړي، دوی پر مقام او رتبه باندې استناد کوي. پیتر دراکر وایي: «مدیریت کوم قدرت نه لري، بلکې یوازې مسوولیت لري.» زه ورسره دا خبره سل په سلو کې منم.

موږ ډېری وخت پرته له دې چې د هغه د تر لاسه کولو لپاره کوښښ وکړو، د احترام هیله لرو. له هغو سختو خبرو چې باید وې لرو، ځان ساتو او هیله لرو چې زموږ ستونزې دې خپله له منځه لاړې شي، خو داسې به هېڅ وخت هم ونه شي. سټیفن کاوي وایي: «هغه څه مو چې په ذهن کې را تاوېږي، وې وایئ. خپل کاري پلان مو پټ مه ساتئ، کله چې مستقیماً خبرې کوو او حقیقت وایو، پر نورو ډېر اغېز کوو. ډېری کارکوونکي داسې فکر کوي چې رییسان یې له هغوی سره صادقانه چلند نه کوي، دا کړنه د سرعت د کمېدو او درنو قربانیو د ورکولو لامل کېږي او هماغه دي چې بدې پېښې به رامنځ ته کېږي او بیا د دغه بد حالت له منځه وړل ډېر وخت ته اړتیا لري.»

## د بشري حقونو کمېسیون: روان کال د افغان ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی ۱٦ سلنه ډېر شوی

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په خپل یو راپور کې ویلي، چې په ۱۳۹۹ لمریز کال کې د افغان ماشومانو پر وړاندې رواني، اقتصادي، فزیکي او جنسي تاوتریخوالی زیات شوی دی.

د دغې څېړنې په اساس، په ۱۳۹۹ لمریز کال کې ٦۲۸ هلکان د رواني، ٦۰٦ د فزیکي، ۴۴ تنه د اقتصادي او ۳۴ تنه نور د جنسي تاوتریخوالي قرباني شوي دي. راپور زیاتوي، چې ۷۹ نورو ماشومانو د نورو بېلابېل تاوتریخوالي یادونه کړې ده.

د یاد کمېسیون په راپور کې ویل شوي، چې په روان کال کې لسګونه افغان ماشومان په وسله والو ښېتو کې ښکېل وو، چې په وینا یې، ۲۰ ماشومان د امنیتي سرتېرو په لیکو کې او ۹٦ نورو د وسله والو مخالفینو په لیکو کې فعالیت درلود. په څېړنه کې راغلي، چې ۱۳ تنه نور ماشومان د وسله والو مخالفینو په نظامي پوستو او مرکزونو کې په کار مصروف وو. په ورته مهال امنیتي بنسټونو او طالبانو تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي. په دغه څېړنه کې ویل شوي: «په ۱۳۹۹ کال کې په څېړنه کې د شاملو ۵۳۱۸ ماشومانو له ډلې، ۱۳۹۱ تنه د تاوترخوالي قرباني وو، په داسې حال کې چې په تېر ۱۳۹۸ لمریز کال کې د تاوتریخوالي د قرباني ماشومانو شمېر په څېړنه کې د شاملو ۵۲۴۸ تنو ماشومانو له ډلې ۵۳۵ تنه وو، نو پر دې اساس په ۱۳۹۹ لمریز کال کې د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي موارد ۱٦ سلنه زیات شوي دي.»

د بشري حقونو کمېسیون ویلي چې د تاوتریخوالي په دغه قرباني ماشومانو کې ۹۴۸ هلکان او ۴۴۳ انجونې شاملې دي. په راپور کې راغلي، ۵۱۱ تنو ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی د پولیسو اړوند کسانو، د ۲۴۱ تنو پر وړاندې د کورنۍ اړوند کسانو، د ۱۱۱پر وړاندې د کار خاوندانو، د ۸۱ تنو پر وړاندې د ښوونکو، د ۵۵ تنو پر وړاندې د نور ماشومان او د ۳۹۲ تنو پر وړاندې د نورو کسانو له خوا تر سره شوی دی.

## طالب: د سولې خبرو د دوام لپاره له طالبانو سره په څلورو ټکو هوکړه شوې ده

په دوحه کې له اوږد ځنډ وروسته د سولې خبرې بیا پیل شوي دي. د سولې مرکچې پلاوي غړی رسول طالب وایي، په دوحه کې د سولې په خبرو کې له پیله تر دې مهاله ستونزې ډېرې وې، خو دواړو لوریو په یوه ټکي هوکړه کړې ده.

نوموړي تېره ورځ په کابل کې د یوې خبري ناستې پر مهال وویل، دواړو لوریو دا منلې چې د افغانستان د خلکو غوښتنې به د سولې د خبرو د دوام لپاره یوه اساسي مسئله وي.

طالب زیاته کړې: «موږ د خبرو د دوام لپاره له طالبانو سره څلورو ټکو باندې هوکړه وکړه او طالبانو موږ سره منلې او دوی مکلف دي چې دا موږ سره د اجرا وړ وګرځوي، له هغې څلورو ټکو یو یې هم د افغانستان د خلکو غوښتنه ده، د افغانستان د خلکو غوښتنه جمهوریت دی، د افغانستان د خلکو غوښتنه انتخابات دي، هغه انتخابات چې د خپل نظر په رڼا کې خپله راتلونکي وټاکي.»

طالب داسې مهال دغه خبره کوي، چې له شاوخوا ۳٦ ورځې ځنډ وروسته افغان او طالب مرکچې پلاوي ورمه ورځ یو ځل بیا په دوحه کې د خبرو میز ته سره کېناستل.

د افغان دولت مرکچې ټیم په خپل ټوېټر په دې اړه لیکلي: «دوشنبه د کب څلورمه ماښام مهال دوحه کې د افغانستان د سولې د مذاکراتو د دواړو ټیمونو د مشرانو او ځینو غړیو تر منځ ناسته وشوه. په دې سلا وشوه چې د تماس ډلې به له مخکې ټاکل شوې اجنډا سره سم د اجنډا په جزیاتو کار وکړي او مذاکرات په نورمال او دوامداره توګه دوام وکړي.»

بلخوا د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم هم رسنیو ته په استولي پیغام کې د ورم ماښام ناستې یادونه کړې ده. هغه ویلي، ناسته په ښه فضا کې ترسره شوه او د تماس ډلو ته دنده ورکړل شوه، چې ناستو ته دوام ورکړي.

نوموړي لیکلي: «د بین الافغاني مذاکراتو د دواړو پلاویو د مشرانو او ځینو غړیو تر منځ په ښه فضاء کې ناسته تر سره شوه. په دې غونډه کې د مذاکراتو پر دوام ټینګار وشو او د اجنډا د موضوعاتو د ترتیب لپاره ټاکل شویو ګروپونو ته دنده وسپارل شوه، چې په دې اړه خپلو ناستو ته دوام ورکړي.»

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۶مه | د ۲۰۲۱ د فبروري ۲۴مه | ۶۸۶یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۱۷ | ۲۰ | ۱۵ | ۱۳ | ۲۳ | ۱۵ |
| ۳ | ٤ | ۵ | ۲ | ۱۲ | ۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۷ | لمر ختل ۰۶:۳۱ | ماسپښین ۱۲:۰۷ | مازیګر ۰۴:۰۴ | ماښام ۰۵:۴۴ | ماخوستن ۰۷:۰۸

## نړۍ




## ماس: ایران دې د ۲۰۱۵ز کال د اټومي تړون ټولې ژمنې پوره کړي



د جرمني د بهرنیو چارو وزیر هایکو ماس له ایرانه وغوښتل چې دا یې په ګټه ده تر څو د نړۍ له قدرتونو سره د ۲۰۱۵ز کال د اټومي تړون ټولې ژمنې پوره کړي.

ماس د امریکا د ولسمشر جو بایډن د ادارې دریځ ته په اشارې ویلي، چې دا اداره لېواله ده چې بېرته له دغه تړون سره یوځای شي.

هغه زیاته کړې، مخکې له دې چې دغه تړون دومره ویجاړ شي، چې د ترمیم وړ نه وي، دا د ایران په ګټه ده چې اوس خپل دریځ بدل کړي. ماس ویلي، جرمني تمه لري چې ایران د نړیوالې اټومي انرژۍ له ادارې سره بشپړه همکاري وکړي، داسې چې هغه بشپړه شفافه وي او ورسره په کړو ټولو ژمنو یې عمل وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د دغې ادارې مشر رافایل ګروسي تهران ته له سفر وروسته بېرته اروپا ته ستون شوی دی. ایراني چارواکو تهران ته د ګروسي سفر او هغه موقتي موافقه چې دواړه لورو له اټومي تاسیساتو څخه د کتنې په اړه ترلاسه کړې، د یوې مهمې لاس ته راوړنې په توګه ستایلې ده.

بلخوا د ایران دولتي ټلوېزیون هم تایید کړې، چې تهران د هغې موافقې عملي کول پای ته رسولي چې د دغه هېواد د اټومي تاسیساتو ناڅاپي پلټنو ته اجازه ورکوي.

## اروپايي ټولنه: په کانګو کې د ایټالیا د سفیر وژنه بوږنوونکې ده

د اروپايي شورا رییس چارلس مایکل وایي، په کانګو ډیموکراټیک جمهوریت کې د ایټالیا د سفیر وژنې سخت ټکان ورکړی دی.

نوموړي په یوه ټوېټ کې ویلي، چې په کانګو کې له سولې او امنیت باید ډاډ ترلاسه شي. د هغه په خبره، اروپايي ټولنه به په دغه افریقايي هېواد کې خپل ماموریت ته دوام ورکړي.

په ورته مهال اروپايي کمېسیون هم ویلي، چې د ایټالیا پر سفیر برید د کانګو د ډېرې خرابې وضعې څرګندونه کوي. د دغه کمېسیون ویاندې نبیلا مسرالي په دې اړه ویلي: «د ملګرو ملتونو پر کاروان برید او د ایټالیا د سفیر د وژنې راپور مو ولید. دا ډېر د اندېښنې وړ خبر دی. موږ دا وضعیت په کانګو کې د اروپا له پلاوي سره تعقیبوو. د اروپايي ټولنې د بهرني سیاست مشر د بهرنیو اړیکو شورا ته راپور ورکړی او له ایټالیا، ملګرو ملتونو سازمان او په کانګو کې د تاوتریخوالي له قربانیانو سره یې خپله کلکه همدردي ښودلې.»

په ورته مهال د ایټالیا حکومت وایي چې په کانګو کې د دوی سفیر لوکا اتانوسیو، له یوه ساتونکي او د ملګرو ملتونو د خوړو نړیوال سازمان له یوه موټر چلوونکي سره په ګډه هغه وخت ووژل شول، چې وسله والو بریدګرو غوښتل دا کسان د کانګو په ختیځ کې وتښتوي. د ایټالیا وژل شوی سفیر ۴۳ کلن و.

## نبیل:
## امکان دارد میزان خشونت‌ها در کشور کاهش یابد



پس از آغاز گفت‌وگوهای صلح بین‌الافغانی در دوحه، میزان خشونت‌ها و قتل‌های هدف‌مند در کشور، به‌ویژه در کابل و بزرگ‌شهرها افزایش یافته است.

رحمت‌الله نبیل، رئیس پیشین امنیت ملی در تویتر نوشته است که امکان دارد میزان خشونت‌ها در کشور کاهش یابد.

رئیس پیشین امنیت ملی در حالی این گفته‌ها را مطرح کرده است که اعضای هیأت‌های گفت‌وگوکنندۀ صلح بین‌الافغانی پس از دو ماه بی‌هیچ گونه نشستی، دو روز پیش باهم دیدار و گفت‌وگو کردند.

رحمت‌الله نبیل نوشته است: «من فکر می کنم میزان خشونت‌ها کاهش می‌یابد. اگر به چند مورد اخیر دقیق شویم، شاید با من موافقت کنید، ببینیم که وضعیت چه‌گونه خواهد شد.»


شماری از آگاهان امور هم به این باورند که فشارهای بین‌المللی بر طالبان سبب شده تا خشونت‌ها را کاهش دهند؛ زیرا همۀ کسانی که در موضوع صلح افغانستان درگیر اند، به این باورند که طالبان مطابق به موافقت‌نامۀ دوحه عمل نکرده‌اند.

فیض‌الله جلال، استاد پوهنتون و کارشناس سیاسی می‌گوید که فشارهای بین‌المللی و حاضرنشدن آمریکا برای بیرون کردن سربازانش از افغانستان سبب شده است تا طالبان با کاهش خشونت‌ها موافقت کنند.

عتیق‌الله امرخیل، آگاه نظامی نیز به همین نظر است. او می‌گوید، سازمان پیمان آتلانتیک شمالی یا ناتو در نشست وزیران دفاع این سازمان تصمیم گرفت تا فرارسیدن زمان مناسب، افغانستان را ترک نکند که این موضوع روی طالبان تأثیر کرده است. به گفتۀ آقای امرخیل، امیدواری وجود دارد که میزان خشونت‌ها در کشور کاهش یابد.


## ژوند

## هواوې نوي ځیرک موبایلونه معرفي کوي



که څه هم هواوې کمپنۍ د امریکا د بندیزونو له امله له سختو ستونزو سره مخ ده، خو پر دې سربېره دغه کمپنۍ غواړي خپل نوي پیاوړي ځیرک موبایلونه خرڅلاو ته وړاندې کړي. هواوې کمپنۍ هر کال د مارچ په میاشت کې خپل د پي لړۍ ځیرک موبایلونه خرڅلاو ته وړاندې کوي او اوس د معلوماتو افشا کوونکې باوري سرچینې ادعا کړې، چې د پي ۵۰ لړۍ ځیرک موبایلونه کېدای شي د مارچ له ۲٦مې تر ۲۸مې کاروونکو ته معرفي شي. د معلوماتو پر بنسټ، هواوې کمپنۍ به د پي ۵۰ لړۍ درې ځیرک موبایلونه چې مختلف پروسېسر به ولري، معرفي کړي. پي ۵۰ به کېرن ۹۰۰۰ ای پروسېسر او پي ۵۰ پرو او پي ۵۰ پرو پلس به کېرن ۹۰۰۰ پروسېسر سره خرڅلاو ته وړاندې شي. د دغو ځیرکو موبایلونو ډیزاین، بیې او نورو ځانګړنو په اړه ډېر معلومات نه دي خپاره شوي، خو ویل کېږي چې پي ۵۰ به ٦,٦ او پي ۵۰ پرو به ٦,۷ انچه مخ‌پاڼه ولري او له ۱۲۰ هرتز ریفرېش رېټ څخه به هم ملاتړ وکړي.

## په ژوند کې «باید» او «نه باید» ته پاملرنه




زموږ خصوصي، کورنۍ، ټولنیز او کاري ژوند د ځینو ځانګړو قواعدو درلودونکی دی، چې ډېر زیات «باید» او «نه باید» پکې شامل دي. که د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې دواړو (باید او نه باید) ته درناوی وکړو، نو هغه ده چې د بریا او پرمختګ شاهدان به اوسو. ځینو ته دغه باید او نه باید یوه عادي او بې ارزښته مسئله ښکاري چې په پایله کې یې په خصوصي، کورنۍ، ټولنیز او کاري ژوند کې د ځینو ستونزو لامل کېږي. د ژوند ټولې چارې چې تاسو ورسره سروکار لرئ، د همدې باید او نه باید اړوندې دي. ان کوم ګرځنده موبایل چې تاسو لرئ، ځینې باید او نه باید لري. د بېلګې په توګه، باید بېټرۍ یې چارج کړئ، څو له موبایل څخه ګټه واخلئ؛ خو نه باید بدل چارجر وکاروئ، ځکه چې موبایل ته مو زیان رسوي. دغه باید او نه باید زموږ په ژوند کې دومره مهم رول لري، چې ان زموږ د ناروغۍ او مړینې لامل هم کېدای شي. باید او نه باید، زموږ د ژوند د هر اړخ اړوندې او سروکار ورسره لري.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له ایسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af
1515

